UNAMA
د ملګرو ملتونو د مرستو د پلاوي دفتر د افغانستان لپاره
د استراتیژیکو اړیکو او ویاند دفتر، کابل، افغانستان
مطبوعاتی اعلامیه
http://unama.unmissions.org

**د بشري حقونو د کمشنرانو په ټاکنه کې ملګري ملتونه د شفافیت او مشاورت په پروسه ټینګار کوي**

**کابل، د ۲۰۱۲ کال د جنورۍ ۲ نېټه-** ملګري ملتونه د هغو اقداماتو هرکلی کوي چې د افغانستان د دولت او مدني ټولنې له خوا د دې لپاره ترسره کیږي چې د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون ته د یوې شفافې مشاورتي پروسې د لارې غوره مسلکي او پوهه کمشنران وټاکل شي، دغه مطلب د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوي نن په دې اړه څرګند کړ.

د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون د نهو تنو کمیشنرانو د پنځه کلنې ټاکنې موده د ۲۰۱۱ کال د ډسمبر په ۱۶ نېټه پای ته ورسیده. د نوو کمشنرانو د ټاکنې په اړه بحثونه اوس روان دي.

د افغانستان دولت د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون د خپلواکۍ، ریښتینولۍ/بشپړتیا او مشروعیت د ساتنې لپاره لومړنۍ مسوولیت لري، چې په کې د افغانستان د قوانینو سره په مطابقت کې د کمشنرانو ټاکنه هم شامله ده.

دافغانستان اساسی قانون د دولت څخه د دې غوښتنه کوي چې د ټاکنې په دغه پروسه کې د پلورالیزم، شفافیت، تنوع او مشاورت نړیوال معیارونه رعایت کړي. د افغانستان د اساسي قانون د اومې مادې سره سم چې د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون د جوړښت، دندو او صلاحیت په اړه ده د افغانستان ولسمشر باید د اړوندې اکاډمیکې سابقې او تجربې له مخې چې د بشري حقونو په ډګر کې یې لري داسې کمشنران وټاکي چې هغه ناپیلي، خپلواک او بشري حقونو ته ژمن کسان وي.

د افغانستان قانون د بشري حقونو د ملي موسسو لپاره د پاریس د اصولو ( منشور) سره په مطابقت کې چې په دې ټینګار کوي چې د بشري حقونو د کمشنرانو ټاکنه باید په شفافیت سره وي چې په دغه پروسه کې پراخ مشاورت، د خالي مقامونو اعلانول هم شامل دي چې په دې توګه د ممکنه نوماندانو شمیره چې د ټولنې د بیلا بیلو ګروپونو څخه استازیتوب ولري زیاته شي او داسې غړي ورڅخه وټاکي چې هغوي په خپل انفرادي ظرفیت کې د خدمت کولو ځواکمنتیا ولري.

ملګري ملتونه او نړیواله ټولنه د ټاکنې د واقعي عام شموله مشاورتي بهیر ملاتړ کوي. دغه پروسه به ولسمشر ته د دې امکان برابر کړي چې هغسې ماهر او پوه کمشنران وټاکي چې په قومي، مذهبي، ژبني، سیمه ییز او د جنسیت په لحاظ د افغاني ټولنې د تنوع سره په مطابقت کې دي او چې هغوي په سیاسي او اقتصادي لحاظ د محرومو ډلو استازیتوب ولري. ملګري ملتونه او نړیواله ټولنه دې ته چمتو دي چې د افغان مشرتابه تر لاندې د ټاکنې د بهیر څخه مرسته او ملاتړ ترسره کړي.